# لوی احمد شاه بابا ژوند لیک

اکاډمیسین اعظم سیستاني
پښتو ژباړه : رحمت آریا

احمدشاه بابا د افغانستان د اوسني دولت بنسټ اېښودونکی (۱۷۲۲- ۱۷۷۳م)۔

هغه پېښې چې د شپاړلسمي زیږدیزې پیړۍ له پیل څخه په افغانستان کې دننه او له افغانستانه بهر رامنځ ته شوې ، ټولې یې زموږ د هیواد په تاوان او د نویو رامنځ ته شویوګاونډو ځواکونو په ګټه وې. په بله وینا پر کال ۱۵۰۰ ز کې په ماورالنهر کې د شیباني دولت او پر ۱۵۰۲ ز کې په ایران کې صفوي دولتونو غوټۍ وهلې وې او پر کال ۱۵۲۵ ز کې په هندوستان کې د بابر د (ګورګاني) دولت بنسټ کېښودل شو. دغو نویو رامنځ ته شویو دولتونو له شمال ، لوېدیځ او ختیزه پر افغانستان د یرغل لاسونه راوغځول او په پای کې یې هیواد په دریو شمالي ، ختیزو او لوېدیځو برخو وویشه او هرې خوا ، د هیواد پریوې ځانګړې ځمکنۍ څانګې د واکمنۍ منګولې ښخې کړې. او په دې بڼې پرهیواد د ګاونډیو واکمني له ۱۵۱۰ څخه تر ۱۷۴۷ پورې څه ناڅه تر دوه نیمو پیړیو پورې وغځېدله.
که پرهیواد د مغولو او تیموریانو د مهال د واکمنۍ دور یوې خواته کښېږدو او د دونېمو پیړیو په اوږدو کې د هیواد ویشنه او بیلَونه را وسپړو نوپه لنډیز ویلای شو چې د ترک ټبرو ګاونډیو د ویشنې په ټولې دورې او واکمنۍ کې د افغانستان وګړې لکه د غنمو د یوې دانې په توګه د ژرندې د دوه ووڅرخېدونکو کاڼو په منځ کې دړې وړې او اوړه اوړه شوي دي . د هیوا د دوګړو ځان، شتمني ، راغې ، کښت او باندې او د هغوی نوم او پت په پرله پسې توګه د کډوالو زوروکو تر تیرې او یرغل لاندې راغلي دي.
د دولت د رسمي مذهب په توګه د صفوي د واکمنۍ پرمهال ، د " شېعه" مذهب له سیاسي ، مذهبي زیږوالي او زېبېښاک او پراخ لمنو ټولوژنو سره تړلې یوه واکمني وه. توکمیزې او غیر شیعه مذهبي ډلې ټپلې د ځورونو په اورونو کې سوځېدلې او ان په ټولېزه ډول وژل کېدلې او د ځورونې ، قهرژلۍ او د شتمنیو د مصادرې تر متروکو لاندې راتللې او اړ ایستل کېدلې چې له خپلې ګروهنې او عقیدې څخه لاس پر سر او شیعه مذهب ته را واوړي.

احمد شاه بابا دزمان خان زوی ددولت خان لمسی دسرمست خان کړوسی و،دغه سرمست خان دشېرخان زوی او دخواجه خضر خان لمسی او دسدوخان کړوسی کیدی او دا هغه سدو خان دی چې داحمدشاه بابا

قبيله دده له ټبره وه .سدوزی خودپوپلزو يوه پښه ده چې له سربنو پښتنو څخه د اودل له پښته ګڼله کيږي (علامه حبيبي )۔

ايراني پوه ډاکټرشفا ليکي : " د ټولو انساني او اخلاقي دوديالو اصولو په تر پښو کولو سره د صفويانو دور له سره تر پايه په وينو تويولو ، سخت زړي توب، ورور وژنې ، ترانه "فساد" درغلنې او بشپړې ځانمننې تير شو .... زنده خوران شاه اسماعيل صفوي چې "قورچي " يې باله د ازبک شيبک خان مړی چې سني مذهبه وو په غاښونو ټوټې ټوټې کړ ، ويې خوړ او د هغه ملګرو چاروا کو د همدغه شيبک خاک ککری د سرو زرو د کټوري په توګه جوړه کړه چې د شاه اسماعيل د شرابو پياله وګرځي. د همدغه پاچا لمسي دويم شاه اسماعيل خپل شپږ ورونه چې کوشني يې لا شيدې رودلې ووژل او په يوه ورځ کې يې د پينځه سوه تنو سپيڅلو صوفيانو سرونه پرې کړل. لومړي شاه عباس خپل پلار د مرګ تر شيبې پورې په زندان کې وساته ، د خپل مشر زوی سرېې پرې کړ او د دويم زوی سترګې يې ړندې کړې. د هغه ځای ناستي ، صفي شاه، د صفوي د کورنۍ ترټولو ستر وينې څښونکي ، خپله مور ، ميرمن ، شيدې رودونکی زوی او ړوند اکا ووژل او د خپلې کورنۍ په لس ګونو تنه نورخپلوان يې ړانده کړل. له وروستي پاچا څخه پرته د صفويانو د کورنۍ نورو ټولو پاچايانو ، د شرابو په څښلو کې دومره ښنديز 'افراط' وکړ چې څلور تنه يې يوازې د شراب څښلو له امله مړه شول. " (ډاکټرشجاع الدين شفا ، تولدی ديګر ، ۴۳۲ پاڼه)۔



احمد شاه بابا په (۱۱۳۵ ه ق - ۱۱۰۳ ه ش -۱۷۲۲ م)کال کې په هرات کي زيږېدلی دی پلار يې زمان خان ابدالي او مورېې زرغونه انا د کندهارد ارغنداب کووک دسيمي د عبدالغني خان الکوزي خور وه او د(۱۱۶۰ ه ق -۱۱۲۶ ه ش -۱۷۴۷م)داکتوبرپرڅوارلسمه په کندهارکي دافغانستان په پاچاهۍ ټاکل سوی اود(۱۱۸۶ ه ق - ۱۱۵۱ ه ش -۱۷۷۲ م )کال دلومړی خورپه دوهمه چي دجون ددريمي سره سمون خوريدپنجشنبي په ورځ ځاښت دکندهار دتوبې غره په لمنه کي مړ اودکندهاردښار په هغه روضه باغ کي ښخ دی چي ده پخپله داسلام دستر پيغمبر د خرقې تر څنګ جوړ کړی و (استاد بينوا ) ۔

د سلطان حسین صفوي په وخت کې د شیعه روحانیت د مذهبي تنګ الواکۍ لمنه دومره پراخه شوه چې د اتلسمې پیړۍ له پېله د ایران تر ولکې لاندې په ګڼو ولایتونو کې مذهبي لړکیو اله ګولې او پاڅونونو ته لاس واچاوه. پر ۱۶۹۹ ز کال بلوڅانو پر کرمان یرغل وکړ او پر ۱۷۰۱، ۱۷۰۳ او ۱۷۰۹ کلونو کې د کندهار وګړو پاڅون وکړ. پرکال ۱۷۱۲ د لزګیان، داغستان او ارمنیان ولایتونو پاڅون وکړ. پر ۱۷۱۵' ز' کال سني کُردانو پاڅون وکړ. پر کال ۱۷۱۶ د هرات ابدالیانو او د ختیز ګرجستان وګړو اله ګوله را وپاروله. پرکال ۱۷۲۲ ز د مسقط عربانو پاڅون وکړاو پرهمدغه کال په شیروان کې د سنیانو وینې په ځوښ راغلې او د حاجي محمد داؤد مُدَرس تر مشرۍ لاندې یې پرشماخي کرسي شیروان یرغل وکړ او په دې پېښه کې له څلورو تر پینځو زرو تنو شیعه ګانو سرونه پرې شول او اله ګوله کوونکو د عثماني ترکیې پرپلوۍ شعار وکړ. په دغو کلونو کې په کرمان کې د میرزا داؤد لسمی سید احمد خان راپورته شو او په بلوڅستان او بنادر کې سلطان محمد چې خلکو "خرسوار" باله ،د پاڅون د ډګرمخکښ وو. (لکهارت ، د صفویانو د لړۍ ورکېدنه، ۳۶۴ او ۱۴۶ پاڼې)-

د دوه نیمو پیړیو په اوږدو کې که د هیواد لوېدیځه برخه د صفوي کورنۍ د لړۍ تر ولکې لاندې د مذهبي تنګ الواکۍ په اورونو کې سوځېدله نو د بابریانو د ولکې پرسرترپایه مهال کې د هېواد ختیزه برخه هم د تیریو او جګړې د اورنو په لمنو کې وسوځېدله. د بابري کورنۍ بنسټ ایښودونکي ، بابر ، خپله هره بریا د خپلو مخالفانو د سرونو د پریکونو اود ماتې خوړلو توکمونو په لوټ او دهغوی له ککریو څخه د منارونو په جوړولو ولمانځله او د خپلو یادونو په یاددښت لېک کې یې ولېکل چې دغه له ویاوړنو ډک یاد خپلو ځای ناستو ته پرېږدي . بابر دغه تګلاره له کابله تر ننګرهاره او له سواته تر باجوړ او دیره جاته ، له غزني او کلاته تر مُقــُره په پښتون توکمو سیمو کې پرته له توپیره له یوې مخې پلې کړه او دغه تګلاره یې خپلو راتلونکو زوزاتو ته د دود په توګې پرېښودله. (رش : توزک بابري)-

د بابر د ځای ناستو په دور کې که د توکمیزو ډلودریوو زوزاتونو د نوي کلونو په اوږدو کې له کابله تر پېښاوره له ۱۵۵۷ تر ۱۶۳۷ او وروسته له ۱۶۶۶ تر ۱۶۷۲ 'ز' پورې د بابري واکمني پروړاندې تورې ووهلې او څه ناڅه سل زره تنه انسانان د دغوجګړو بلهاریان شول نو د بابري د واکمنۍ په بله برخه کې له کابله تر بدخشان او کندهاره بابري شهزادګي د خپلې واکمنۍ په ټول مهال کې د یو بل پر وړاندې درېدلي ، یوبل ته یې دروهي 'دسېسه 'جوړې کړي ، خپلو منځو کې یې درغلني کړي او خپلې لښکرې یې د یو بل په وړاندې ځغلولې دي. په دغو لښکریزو جګړو کې هغو جنګیالیو چې د ده یا هغه شهزادګي په ګټه تورې وهلې پرته له دې چې یو بل وپیژني د همدغو شهزادګیو د څېځپاندۍ او هوس بلهاریان کیدل.

د دغودوه نېمو پېړیو په اوږدو کې د افغانستان وګړو که په ختېزکې ول ، که په شِمال کې ، که په سویل

کې ول یا په لوېدېځ کې ټولو سره له دې چې دولتي پیاوړي ځواکونه په ځو ځو ځله د غیرپوځي وګړو په پرتله ښه په وسلو سمبال ول ، پاځون وکړ او له بابري واکمنۍ سره لاس او ګریوان شول. دغه پاځونونه خپل سرېزه پاڅونونه ول او هېڅ ځانګړې تګلاره یې نه درلودله نو له دې امله د پاڅونونو لړۍ پرته له دې چې مخکښه لارښود او کړنلاره ولري ، یوازې د مذهبي او توکمیزو ډلو تر سیورې لاندې تر سره کېدل. له هغې ډلې څخه کولای شو د افغانستان په ختېز کې د پیرروښان تر مشرۍ لاندې غورځنګ د بېلګې په توګه را واخلو او د غورځنګ لړۍ تر دریو زوزاتونو "نسل" پورې وغځېدله چې د همدغه غورځنګ له منځه د هند د مغولي دولت پر وړاندې د خوشحال خان ختک ،ایمل خان مومند او دریا خان اپرېدي غورځنګونه راپاڅېدل او له ۱۶۶۷ تر ۱۷۷۲ پورې یې د غورځنګ لمنه توده وساتله او د غورځنګ ملا دومره پیاوړې شوه چې اورنګزیب په خپله دې ته اړ شو چې د خوشحال خټک پر وړاندې په خپله د جګړې ډګر ته را ودانګي او د دغه کار په کولو یې یوازې د غورځنګیانو پر ضد د خپل لښکر روحیه پیاوړې کړه. د پښتون توکمو د اله ګوله کوونکو د پاځون له غلي کولو او د سلو زرو دولتي او اله ګوونکو له وژلو وروسته دهند مغولي دولت دې ته اړ شو چې د کابل، پېښاور او ننګرهار په ښارونو کې د اوضاع د څارنې او د یوه بل شوني پاڅون د ټکولو او مخنیوي لپاره خپل پوځي ځواکونه تیارسئ ودروي.



احمدشاه بابا دلوی افغانستان هغه لوی نومیالی پاچا او دنني افغانستان بنسټ ایښودونکی و، چې افغان ولس خپل پلار بللی او د بابا ستر لقب ئې ورکړی دی او دا هغه لقب دی چې افغان ولس ئې خپلو هغو سترو مشرانو ته ورکوي چې ددې ولس دخلګو په زړو کې ئې د پلار ګلوئ ځای موندلی وي (استاد بینوا ) ـ

د دغودوه نیمو پېړیو د اورونو له تل څخه د صفوي کورنۍ د وروستني پاچا سلطان حسین صفوي په وخت کې وو چې د کندهار وګړو د میرویس خان هوتکي تر مشرۍ لاندې پاځون وکړ او په کندهار کې یې د صفوي دیرش زره کسېزه لښکر تر وروستني تن پورې له چړو تیر کړ او د فارس " ایران " له صفوي

دولت څخه یې د خپلې خپلواکۍ بیرغ راپورته کړ.

د دغودوه نیمو پیړیو د اورونو له تل څخه د صفوي کورنۍ د وروستني پاچا سلطان حسین صفوي په وخت کې وو چې د هرات وګړو د ابدالیانو ترمشرۍ لاندې پاڅون وکړ او د ایران له صفوي دولت څخه یې خپله سیمه یزه خپلواکي واخیستله (۱۷۳۱-۱۷۱۶).

د دغودوه نیمو پیړیو د اورونو له تل څخه د صفوي کورنۍ د وروستني پاچا سلطان حسین صفوي په وخت کې وو چې د خراسان په تون کې ملک محمود سیستاني د ایران د صفوي دولت پر انګ "ضد" پاڅون وکړ او نه یوازې پیاوړی دولتي پوځي ځواک یې دړې وړې کړ بلکه مشهد یې هم ونیو او د خپلې راتلونکې واکمنۍ لپاره یې د پلازمېنې په توګه وټاکه او د ۲۵ تیرو پیړو د دود په ډول یې د پاچاهۍ تاج پر سر کښېښود او خپل ځان یې د خراسان پاچا وباله (۱۷۲۷-۱۷۲۲).

د دغودوه نیمو پیړیو د اورونو له تل څخه د صفوي کورنۍ د وروستني پاچا سلطان حسین صفوي په وخت کې وو چې د کندهار وګړي د شاه محمود هوتکي تر مشرۍ لاندې د اصفهان تر زړه پورې وړاندې ولاړل او تورې یې تر هغه وخت په تېکي کې کښنښودلې چې د صفوي د پاچاهۍ کمبله یې د تل لپاره ورټوله کړه. (۱۷۲۹-۱۷۲۲).

په پای کې د همدغو دوه نیمو پیړیو له تل څخه بیا هم د کندهار د وګړو له منځه ځوان او یوه لارښود احمد خان ابدالي سر راپورته کړ او د خراسان د شپږ نیمو پیړیو د ورانیو ، دوړو او خارو پرسر چې خپلې کرښې یې له لاسه ورکړې وې ، د افغانستان په نامه د یوه نوي هیواد بنسټ کښېښود او د هېواد وګړو پرخپلو برخلېکونو واک وموند اویو ځل بیا د له لاسه ورکړي پت او نوم خاوندان او د ملي پیژاند څښتنان شول. دا دی اوس له هغې ورځې ۲۶۰ کاله تېرېږي او افغانستان د خپلواکوهېوادونو په کتار کې ولاړ یوهېواد او د نړۍ پر ځمک انځوره یې ځای ځایګی د یوه پیاوړي پولادي موټي په توګه څرګند دئ.

دابدالی احمدشاه دظهور زمینه

د اتلسمي زیږېدیزې پېړۍ څلورمه او پینځمه لسیزې د نادرشاه افشار د واکمنۍ او پاچاهۍ له دور سره سمون خوري . دا هغه دور وو چې د ځمکوالۍ له شدیل زبېښاک ، د وګړو له لوټ اوتالا ، د زیږغاړي تولباړې 'تشدید مالیه' جوړښت ، الغا او تلغا ، تاوتربخوالي ، زورمټي ، ټولوژنې ، اورلړۍ ورانۍ او له ککریو څخه د منارونو د جوړولو یو ناورین وهلی دور وو.




احمدشاه بابا په افغانستان کې یوازېنی پاچا وو چې تاج یې پرسر نه ایښوده او پګړۍ یې تړله او له خلکو سره په اړیکه کې وو. د پلاز 'تخت' پرځای به پر ځمکه کښېنسته او په ورین تندي به یې له خلکو سره خبرې اترې کولې. ..... خپله کورنی یې له دولت او واک څخه لیرې وساتله او یوازې تیمور یې د جهان خان پوپلزي تر لارښوونې لاندې دهېواد په لوېدېځو او ختیزو سیمو کې د سیاسي او پوځي روزنو په چارو کې بوخت وساته. د کورنی دغه بیلوالی تر دې کچې وو چې د هیواد تأریخ او وګړي پرته له تېمور او سلیمانه د بابا نور بچیان په بشپړه توګه نه پیژني حال دا چې بابا اته زامن درلودل: [سلیمان ، تیمور، شهاب، سنجر، یزدان بخش ، سکندر ، داراب او پرویز]. (میرغلام محمد غبار).

د ۱۷۴۰ زېږدېز کال له پیله بیا تر کال ۱۷۴۷ د افغانستان د معاصر دولت تر جوړېدلو پورې د افغانستان د پښتنو ، تاجیکو، هزاره وو، چارایماقو ، ازبک او ترکمنو ډلو ټپلو د کابل د سیند پر ورځېرمه راغو او بانډو، په بلخ او کندز ، اندخوی ، سرپل ، شبرغان ، هرات ، بادغیس او سیستان کې د نادر پر وړاندې د پاڅون بیرغونه را پورته کړل او سره له دې چې د نادر پو پنا کوونکي ځواک دغه پاڅونونه په وینو ولمبول مګر بیا یې هم و نه شوای کولای چې زموږ د وګړو د خپلواکۍ غوښتنې پیاوړی غږ په ستوني کې غلی کړي او هر ځل چې د هېواد په یوه ګوټ کې یو پاڅون په زور او د شلګرو ، توپ او مردکو په مټ غلی کېده نو د هېواد له بل ګوټ څخه به دغه غږ بیا را پورته شو او ځانمنونکو چارواکو ته به یې د سر په کاسه کې اوبه ورکولې. (د نادر افشار پروړاندې پاڅونونه � د اعظم سیساني لیکنه ، ۷ پاڼه).
په دغسې یوه بې ټیکاوه له اړدوړاو کړکېچه ډک چاپیریال کې د هیواد په میلیونونو وګړي د خپل سریزې ځمکوالې واکمنۍ د بدلون په لټه کې ول او په پای کې نادرشاه افشار د خپل د دربار د سرلارو پر لاس ووژل شو چې د سترګو په رپ کې یې حکومت هم دړې وړې کیږي او په سېمه کې د افغانستان وګړي لومړي وګړي دي چې د آزادۍ او خپلواکۍ د تمبلونو انګازې یې په هرګوټ کې خپرې کړې او د کندهار په ښار کې په کال ۱۷۴۷ ' ز' کې یې د ابدالي احمد شاه تر مشرۍ لاندې د یوه نوي هیواد "افغانستان "

بنسټ کښېښود چې له هغه وروسته زموږ وګړي پرخپل برخلېک د واک څښتنان شول او خپل له لاسه تللی نوم ، برم او پت يې بيرته تر لاسه کړ.

احمدشاه ابدالي پر کال ١١٣۵ هجري کې چې له ١٧٢٢ زېږدېز سره سمون خوري په هرات کې زېږېدلی دی. پلار يې زمان خان ابدالي او موريې زرغونه د کندهارله ارغندابه د عبدالغني خان الکوزي خور وه. زمان خان کاروندی او پوه سړی وو. هغه د هرات ټول ملي ځواک يو موټی کړ او خپل ځان يې د صفوي لښکر د مخنيوي لپاره چمتو کړ. ترکمان صفي قلي خان چې لښکريې په توپچي ځواک او شوبلو هم سمبال وو د ابداليانو د ټکولو لپاره د هرات پر لور را وخوځېد. د محمد زمان خان تر مشرۍ لاندې ابدالي ځواک د ميرڅې د مخنيوي لپاره تر کافر کلا پورې راووت. کله چې فارسي "ايراني" ځواک سيمې ته راورسيد او جګړه پيل شوه نو کارپوه او زړه ورو ابدالي توپک لرونکي ځواک پر صفوي لښکر اورونه بل کړل او درونډ تاوان يې ور ورساوه او له پياوړي يرغل څخه وروسته يې د صفي قلي خان ځواک دړې وړې او مشهد ته يې د تېښتې لپاره اړ کړ. کله چې صفي قلي خان د خپل لښکر نه رغېدونکې ماته په سترګو ولېدله نو مرګ يې تر ژونده ښه وباله نو د باروتو پربګۍ کښېناست او ځان ته يې اور واچاوه او دړې وړې شو. دغه جګړه پر ١١٣٢ هجري (١٧١٩ ز) کال په کافرکلا کې (نن اسلام کلا) يادېږي تر سره شوه. (حبيبي ، د افغانستان لنډ تأريخ ، ٢٣٨ پاڼه).

پرصفوي لښکر له دغې بريا وروسته محمد زمان خان تر دوه وو کالو او پينځو مېاشتو پورې په هرات کې په برم او کرارۍ حکومت وکړ او پر کال ١١٣۵ هجري چې له ١٧٢٢ سره سمون خوري سترګې له نړۍ پټې کړې. په دغه کال کې احمدشاه لا يو کلن نه وو شوی او له پلرنی مينې بې برخې شو او د خپلې زړه سواندې مور او مشر ورور ذوالفقار خان تر سيپڅلې سيوري لاندې يې وده وکړه او يوازې يې دومره وکولای شول چې د جومات له ملا څخه د قران کريم لوستنه زده کړي او لمېسانده "باسواد" شي.



د ۱۱۸۲ه کال د محرم دمیاشتي په دیارلسمه احمد شاه بابا شاه ولي خان دبدخشان دوالي سلطان شاه له فساده دبدخشان سیمي دژوغورلو او دانحضرت محمد مصطفی (ص ) مبارکي خرقې چي په بدخشان کي وه دراوړلو په موخه بدخشان ته ولیږه او هغه بدخشان ونیوه او خرقه مطهره ئي دکابل له لاري کندهار ته یوړه (استاد بینوا)۔

ذوالفقار خان پر هرات له ۹ کلن حکومت او د هرات د ساتني لپاره له نادر سره له سختو نښتو او جګړو او د نادر له لاسه له ماتي وروسته له احمد شاه سره چې ۹ کلن وو کندهار ته راغی او له خپل ورور ذوالفقار خان سره یو ځای د شاه حسین هوتکي په زندان کې ولوېد. احمدشاه له ۱۷۳۱ تر ۱۷۳۸ پورې په زندان کې وو او په ۱۷۳۸ کال کې نادر کندهار ونیو او له ذوالفقار خان سره یو ځای له زندانه خلاص او مازندران ته په جلا وطنی اړ ابېستل شو. وروسته له هغه چې نادر له هندوستانه په بریا راستون او په مشهد کې یې د خپلې بریا لمانځنه وکړه (۱۱۵۳ ق چې ۱۷۴۰ زېږدېز کال کیږي) نولس کلن احمد شاه د نادرشاه افشارپه لښکر کې ګډون وکړ چې په ارمنستان ، داغستان ، آیروان ، آذربائیجان او نورو سېمو کې د نادر د جګړو او نښتو په بریاوو کې یې د خپلې کارندې ونډې له امله د نادرځانګړی پام ځانته را واړاوه او دغه پاملرنه دومره پیاوړې وه چې هغه یې د خپل ساتونکي ځواک د افسر او دافغاني لښکر د مرستیال په توګه و ټاکه. له دغه مهاله وروسته احمدشاه د نادر تر مړینې (تر ۱۷۴۷ کال پورې) د واکمنی ، حکومت کولو او ستروواکی جوړولو رموزونه زده کړل. په حقیقت کې د ایران په شمال اود لوېدیځ په ګڼو سېموکې د نادر د لښکر پرمختګ او بریاوې د ابدالي احمدشاه لپاره د یوه پوځي پوهنتون په توګه ګڼل کېده ځکه چې په هغو وختونو کې په سېمې کې هیڅ ډول پوځي پوهنتونونه او ښوونځي نه ول چې د پوځي روزنې او د دفاعي چارو زده کړه په کې تر سره شي.

وروسته له دې چې نادر د خپل د دربار د سروالاوو (د محمدخان قاجار او ملګرو په ګډون) په خبوشان کې ووژل شو ابدالي احمد خان او افغاني بولندویانو د نادر حرم د نادرد لښکر له تیري او لوټ څخه وژغوره او د نادر د حرم میرمن د دغه کار په درناوي کې د "کوه نور الماس" او د فخراج � د محمد شاه بابري له خزاني څخه د یوه یاقوت نوم ؤ چې د نادر افشار لاس ته ورغلی ؤ �دهخدا� یوه ګرانبیه دانه یې احمدخان ته ډالۍ کړه او احمد خان کندهار ته راستون شو. ( داکتر محمود افشار یزدي ، افغاننامه ، لومړی توګ ، ۱۸ پاڼه)۔



د۱۷۴۷ کال داکتوبرپه څورلسمه نیټه په کندهار کې دافغاني مشرانولخوا په هغه ملي جرګه کې چې دشېرسورخ په مزار کې جوړه شوې وه او د اته ورځو پرلپسې غونډو ورسته واک د همدې زیارت ملنګ ته چې صابرشاه نومیده ورکول سو نو هغه پاڅید اود غنمو وږی ئې د ۲۵ کلن احمد شاه ابدالي په پګړۍ کې وټومبه او هغه ئې دافغانستان دپاچا په توګه وټاکه او ټولو افغانانوپه پاچا ومانه

په کندهار کې افغاني مشرانو د حاجي جمالخان بارکزي ، محبت خان پوپلزي ، موسی خان اسحق زي ، نورمحمد علیخان علیزي، نصرالله خان نورزي (تأریخ سلطاني ، ۱۲۲ پاڼه) په ګډون د کندهار په مزار شیرسرخ کې د افغانانو له منځه د یوه ملي لاربنود د غوره کولو په موخه یوه جرګه جوړه کړه. د خانانو هریو د واک د نیولو غوښتونکی وو او د یو بل ټاکنه یې غندله ، جرګه تر اتو وروځو پورې وغځېدله او له اوږدو خبرو اترو وروسته یوې منونکې پایلې ته و نه رسېدله. د جرګې په نهمې ورځې د جرګې غړیو د صابر شاه په نامه یو روحاني چې د مزارشیرسرخ مجاور وو د منځګړي په توګه وټاکه او ټولو ومنله چې هرڅوک دی وټاکي ، نو ټول به هغه ته بیعت وکړي . دغه سپیڅلی صوفی مشربه له خپله ځایه پاڅېده او له ځیرمه سېمې څخه یې د غنمو یو وَږی را واخیست او بیرته جرګې ته راستون شو ، د جرګې ټولو غړو د هغه پرهر خوځښت سترګې نیغې کړې وې او لاره یې څارله چې څه کوي او سترګې په لار ول چې چا ته نیږدې کیږي . په جرګه کې صابر شاه لېدلي وو چې یوازېنی تن چې ډېرې خبرې نه کوي ، احمد خان دی ، صابر شاه احمدخان ته نیږدې کیږي او دغنمو وَږی د احمد خان په پګړۍ ورټومبي او وېې ویل : " دا ستا جېغه ده او ته د افغانانو پاچا یې! " د جرګې ګډونوالو د احمد خان ټاکنه احمد خان ته مبارک وویله او له ټولو مخکې حاجي جمالخان بارکزي ورپسې نورمحمد علیزي او د توکمونو نورو مشرانو او سپین ږیرو

له احمد شاه څخه خپل ملاتړ څر ګندکړ او هغه ته يې ډاډ ورکړاو احمد خان په درناوي او مننې دغه ټاکنه ومنله. (۱۱۶۰ هجري ، د ۱۷۴۷ کال د اکتوبر مياشت) . احمدخان په دغه وخت کې ۲۵ کلن وو. (سراج التواريخ ، لومړی ټوک ،۱۲ پاڼه ، بېنوا ، د غنمو وږی)۔

کله چې نامتو انګريزي څېرونکي الفنستون د افغانانو په اړه خپل پراخ اړخېزه کتاب لیکه نو د سویل لوېديځو افغانانو د خبرو په څېرکی کې احمد شاه بابا د اوسني افغانستان د بنسټ اېښودونکي په توګه يادوي : " احمد شاه په پوهې او کاروندیی د یوې سترې ستړواکی بنسټ کېښېښود. د مړينې په وخت کې د هغه متصرفه سيمي د خراسان له لوېديځه تر سرهند او له آمو د هند ترسېنده پورې و غځېدلي او دغه سېمې يې يا د ترون له مخې او يا په لاس (د تورې په زور)۔ ترلاسه کړلې. (الفنستون ، افغانان ، ۴۹۴ پاڼه)۔



همدغه ستراحمدشاه بابا وو چې موږ ته يې د ملي او سياسي پيژندنې نوم را وبخښه ، که نه زموږ ملت د هند ، يا د ايران او يا د ماوراءالنهر د پرديو پاچايانو د خپلسريو او تيرغمالۍ تر سوک لاندې خپله ملي پيژندنه له لاسه ورکوله. د احمد شاه بابا ستره هېله د افغانستان د وګړو سمسورتيا ، سرلوړي او خپلواکي وه . د يوه سرتيري، د برخلېک جوړونکو ډګرونو د پرانېستونکي او د زړه ور ملي لاربشود په توګه يې د اوړدو او ترخو سختوسفرونو ډول ډول غښکي"خطرونه" ومنلې او افغانانو ته يې وياړونه وګټل . هېڅکه يې له هېواد سره دوکه او درغلنه ونه کړه او خپل هېوادوال يې سپک ونه ګڼل. هېڅکله يې له خپلو هېوادوالو څخه ځان لوړ و نه ګاڼه ، هېڅکله يې د هوساېنې او غورغوشتنې پرنالیچې ډه ډه ونه لګوله . هېڅکله يې له بهرني ځواک څخه لاربښونه وانه خېستله او هېڅکله يې خپله توره د هېوادوالو پروړاندې ونه چلوله. سره له دې چې احمدشاه له چا تاج اخيست او د چا پرسر يې تاج اېښود خو هيڅکله يې تاج پرسر نه کړ. لکه خپلو نورو هېوادوالو يې پګړی پر سره کوله او له هغو سره پر سپيرې ځمکې کېښېنسته او د هغوی د زړونو دردونوته يې غوږ نيو او د بې وزلوغوښتونو ته يې وردانګل او لاس نيوی يې کاوه او

دیوه زړه سواندي پلار په توګه یې له هیوادوالوسره چال چلند کاوه او له همدې امله وه چې هېوادوالو "بابا" باله.

د همدغه درنښت له کبله ده چې الفنستون لیکي : " که په ربښتیا په آسیا کې یو پاچا د خپل ملت درښتوني درناوی وړ وي ، نو پرته له احمدشاه بل څوک نسته" (هماغه اثر ، ۳۸۱ پاڼه) ـ
افغانان ګروهن دي چې ستر احمدشاه بابا د هېواد یوه ستره او نېکنومې ځلانده سیاسي څیره ده او د افغانستان په معاصر تأریخ کې د ستر درناوي وړ درېز او ځای لري او که څوک د هغه لوړ شخصیت ته په سپکه وګوري نو دهېواد د ربښتونو بچیو د کرکې وړګرځي.
دهېواد ګرانه بچیه ! دا ومنه چې د ستراحمدشاه بابا (ع) د پوهې او تورې له برکته ده چې نن د نړۍ د ځمک انځورې پرمخ د افغانستان ځای او نوم لېدل کېږي اوبې ځایه نه ده چې د هغه بچې پرې ویاړي . له همدې امله هیڅ د انصاف وړ تاریخ لیکونکی او لیکوال به نه وي چې افغانستان د ستر احمدشاه بابا د ګرانبیه مېراث په توګه ونه مني او د هغه ملي خپلواکۍ او واکمنۍ ته درناوی ونه کړي او دداسې یوه کارپوه افغان پاچا یاد په درنښت یاد نه کړي.
راځـئ چې ستراحمدشاه بابا په درنښت یاد کړو او دهغه د سترو اواړینو کارنامو مننه وی اوسو او د هېواد بچېو ته د داسې سترو ملي شخصیتونو د کارنامو درسونه ورزده کړو. پای


ابدالیان څوک وو، څنګه او له کوم ځایه هرات ته راغلل؟

د ابدالیانو (یا درانیانو چې نن ورځ پر همدغه نوم یادیږي ) پیاوړي ټبـر خپل نوم د پښتانه توکم د نامتو نېکه له نوم ابدال یا اودال څخه اخیستی ، اودال د ترین زوی ، ترین د شرخبون زوی ، شرخبو ن د سربڼ زوی وو. پوهاند حبیبي د اپتل د نوم د ژورې پلټنې له لارې چې له هپتال سره برابر دی غواړي د ابدال او اودال ریښي ته ورسیږي. هغه لیکي چې د ابدال ریښه اپتل Aptal یا هپتالي ته رسیږي او دا د آریایانو له یوه توکمه یوه سپین پوټکي ټبر ته تر ۴۰۰ زیږدیز کال پورې ځغلي چې په باختر او تخارستان کې یې پیاوړی دولت جوړ کړ. (۱)ـ

که څه هم د پوهاند حبیبي دغه هڅه یو شمیر سخت دریزو پښتـنو ته د منلو وړ نه ده ، خو افغان څېړونکی ښاغلی محمد معصوم هوتک د (اودل، ابدل، اپتل، هفتل) ترنوم لاندې د اروا ښاد حبیبي دغو اندونو ته په کتنې لیکي چې : د ابدالیانو ریښه د آریایي توکم د هغه سپین پوټکي ټبر تر ریښې پورې ځغلي چې په

تأريخ کې د اپتل Aptal يا هفتل پر نوم ياديږي . اروپايانو د آريايانو د غه هپتاليان د سپينو هونانو تر نامه لاندې ليکلي او وايي چې (هون ، هان) په پښتو کې د (خان) اوښتلي بڼه ده ... عربانو دغه ټبر ته [هياطله] وَيَـلـَي دي. تأريخي څېړنې څرگندوي چې افغانستان ته له راتگه وروسته دغه سپين پوټکي آريايان له دوی څخه پـخوا ـ مېـشتو توکمونو (پکهت ، پښـت ) سره گډ شوي دي . د هفتاليانو ژبه هر څه چې وه ،وه به ، خو له پکتهانانو سره له يو ځای کېدلو وروسته له سره تر پايه په (پښتو) واوښتـلـه. د ۴۰۰ زيږديز کال په شاوخوا کې د اپتـل ټـبـر په باختر او تخارستان کې يو پياوړی دولت رامنځ ته کړ ، له ساسانيانو سره يې جگړې وکړې او د وخت او تأريخ د زړه پر سر ليکل شوې ډبـر لېکې يې و موندل شوې)(۲) ـ








په کندهار کې د اعليحضرت احمدشاه بابا مقبره

باید ور غبرگه کړم چې په طبري (۳) کې یاده شوې (هپاطله) یا (هفتالي) چې عربي لیکونکو په تیر وَتـنـې د هپاطله او هپطال په بڼه لیکلی او سمه او نیږدې بڼه یې هماغه (چیني اپتل) ده ،د آریایانو د یوه نامتو ټبـر نوم وو چې د خپل راتګ په هماغو لومړیو شپو ورځو کې یې د ایندوکـَش (هندوکش) په شمال تخارستان کې استوګنه غوره کړه.هغوی په پینځمه پیړۍ کې د هندوکش سویل ته را وا وښتل او خپله ژبه یې چې هر څه وه له خپلو پخوا- مېشتو ټبرونو (د زابلستان له پکتهانانو) سره پر یوځای کېدنې ، هیره او پښتو یې را خپله کړه. د دغه ټبـر د پاتې شونو ټولنیزې ځانګې د افغانستان په بدخشان او تخارستان کې د یفتلیانو پر نامه پیژندل کیږي.

اکاډیمیسن ډاکټر جاوید لیکي چې ): په پخوا وختونو کې به هپاطله پاچایانو پر تخارستان حکومت کاوه او یبغو بلل کېدل. د لرغونو کوشانیانو لاربنود مشران هم یبغو بلل کېدل. چېني هپتل ، هپتال ، یپتل (yeptal) په پارسي کې ابدال شوی دی. هفتالیانو بودایي ګروهنه یا عقیده درلودله او د ساساني لومړي شاپور پرمهال د ساسانیانو د واکمنی یوه برخه ول. شاپور د زرتشت د کعبه په ډبر لیکه کې نرسه یې د هند، سکستان او تخارستان د پاچا پر نامه پیژندلی دی)( ۴(-

خو د پوهاند حبیبي پر وینا ، هپتالیانو بودایي مذهبي تګلاره نه درلوده او په خپلو لومړنیوسوبو کې یې د بودایانو ډیري لمنځنځایونه را ونړول او د دغې ګروهنې لارویان یې ووژل. کله چې په (۹ هجري یا ۶۳۰ زیږدیز کال کې ) هیوان تسانګ افغانستان ته راغی نو د ګندهاره په ولایت یې ډیري وګړي او شهزادګي ولېدل چې د خپلو لمنځنځاینو پر بیا ودانولو بوخت ول. د بودایي د لمنځنځایونو نړونه د هغه له را تګه مخکې تر سره شوې وه. په کابل او هډه کې د هپتالي پاچایانو له ترلاسه شویو سـِکو څخه څرګندیږي چې هغوی د برهمني یا لمرګورهني دین درلود. په زمېندوَار کې [په ۳۳ هجري کال کې د عبدالرحمن ابن سمره ] پر لاس د زور یا زون د کنډ (بـُت) [نړونه] او په خیر خانه (خـُرخانه) [لمرکورګي] کې د سوریا د لمنځنځي موندنه د زنبیل شاه په وخت کې د هفتالي پاچایانو د لمر ګروهنې د دین پر ټولنیز دود د منښتي ګوته ږدي. (۵)-
انګریزی نامتو څیړونکی بوسورت په تخارستان او د هرات په کرښو کې د اسلامي لښکرو پر وړاندي د هفتالیانو له پاتې شونو څخه د هپتالیانو د نامتو واکمن طره خان نیزک د نوم د یادولو په ترڅ کې زیاتوي چې : (نوموړي تر ډیرو کلونو پورې د هغوی هېلې ژوندۍ وساتلې او د هغه د ټېنګاراومقاومت غورځنګ هغه مهال پای ته ورسیده چې په ۸۶ قمري (۷۰۵ زېږدیز کال کې) قـتـېـبه مسلم په دوکې او درغلنې د هغه

کور کلابندي کړ او و یې واژه) .۶ .() په ۸۶ هجري کال کې په خُـلُـم ، بغلان ، سَمـنگان ، بادغیس او مَروَ کې د قـتیـبه د لښکرو پروړاندې د باغیسي نیزک د تورو او زړورتیاوو انگازې زموږ د هیواد د وگړو د مقاومت د غورځنگ په پاڼو کې یوه ځلانده پاڼه ده.

د پوهاند حبیبي د څېړنو پربنسټ سپین پوټکي آریایان چې چینایانو " یې � تي � لي دو" ، رومیانو "افتهالیت "Ephthalites یا "خیونیت "Chionites او پارسیانو هون "Hon او"هون "Hun او په پـهلوي ، عربي او دري ژبو کې هېتال یا هېطل یا هیاطله یاد کړي دي له منځنـۍ اسیا او آمو څخه په تېرېدنې د هندوکش (اپندوکش) شمالي رغیانو ته را واوښتل ... دغو وگړو کله چې په ۳۶۰ زیږدیز کال کې په خوځېدلو پیل وکړ او د کوشاني کېداریانو غوړغونه د هغوی د یرغل وړې ته بوخ شول ،نو له ساسانیانو څخه یې د مرستې غوښتنه وکړه ، خو دوی په خپله مقاومت و نشو کولای او د گندهاره رغیانې ته په شا شول. خو هېتالیانو ( چې نوم یې د بدخشان په یفتل کې لا تر اوسه ژوندی دی) تر ۴۲۵ زیږدیز کال پورې یې تول ختیز یا باختریه بشپړه توگه ونیو او له همدغه ځایه یې د لوېدیځ په لور د ساسانیانو دولت له غښکې 'خطر' سره مخامخ کړ. په سویلي لور کې یې د کابل او گندهاره رغیانې تر ولکې لاندې راوستلې او د هېتالي افغانستان پیاوړی دولت یې رامنځ ته کړ. هفتالیان هم د کوشانیانو ، کېدارانو او ساکهانو په ډول د دغه هیواد له کره او بومي آریایانو او پښتـنـو سره یو ځای شول. څرنگه چې په خپله آریایي توکمه او له آریایي دود څخه راپاڅېدلی ټبر وو نو په افغانستان کې یې پیاوړې توکم رامنځ ته کړ او د لوړې پړې په لرلو انگې یا څېرې یې کټ مټ د غلجیو او ابدالي افغان توکمونو ځوانانو ته وَرته او د ابدالي د ټبـر نوم هم له همدغې رېښې ښکاري....
په ۴۲۷ زیږدېز کال کې د هفتالي د لښکر لومړۍ ښته د ساساني پاچا بهرام گور له لښکر سره د مرغاب او مرو روډ په سیمې کې رامنځ ته شوه او پایله یې د هفتالي پاچا پرمړینې را ووښتله ؛ بهرام گور د هغه جړاوول شوی (مُرَصع) تاج د آذربائیجان اوریز لمنځنځي (اتشکده) ته ډالۍ او خپل وراره یې د هفتالیانو پر ځمکه د استازي پاچا یا نایب السطلنه په توگه وټاکه. له بهرام گور وروسته په ۴۳۸ زیږدېزکال کې د هغه زوی دویم یزگُرد له هفتالیانو سره چې په طالقان (۷) کې میشت ول لاس او گریوان شو خو ماتې یې وخوړه او له هغه وروسته له (۴۵۷-۴۸۴ زیږدیزپورې) لومړی پیروز یې ځای ناستی شو او په همدغه وخت کې د هفتالیانو توکمیزه مشري د اشخونواز (خوشنواز) په غاړه وه. اشخونواز له پیروز ساساني سره جگړه پیل کړه اوپه پای کې ساساني پاچا ماتې وخوړه او ژمن شو چې په طالقانو کې د هپتالیانو اوېجې (قلمرو) ته په درنه سترگه وگوري او هم یې تر دوه وو کالو هیپتالي دولت ته درونډ باج ورکاوه او خپل

زوی قباد یې د خوشنواز دربار ته د یرغمل په توګه لیږلی وو. ساساني پیروز له مخکنیو ژمنو سره سره یو ځل بیا پر هپتالیانو لښکرې را وڅرخولې او په (۴۸۴ زیږدیز کال کې) د خراسان د دښتو په جګړو کې دی او دهغه لښکرې سټ وټ او تباه شولې او دهغه لور د اشخونواز منګولو ته ورغله چې بیا یې ورسره واده وکړ. له هغه وروسته له مرو روده تر هراته د هپتالیانو د واک لمنه وغځېدله او د ساساني دولت به ورته باج ورکاوه.

اروابناد پوهاند حبیبي زیاتوي : هغه مهال چې د هفتالیانو پاچاهی د آریانا په هر ګوټ کې خپور شو نو د هغوی ټبرونه د زابل (د غزني او سیستان ترمنځ ) په سیمو کې مېشت شول. په موندل شویو ډبرلیکو کې هفتالي (یا یفتلي) پاچایانو ځانونو جابوله (Jabula) یا جیوله (Jauvla) یعني زابلي بللي دي. د ستر هپتالي اخشنوان د واکمنی سیوری له (۴۶۰ تر ۵۰۰ زیږوریږ) تر څلوېښتو کالو له پاړسه نېولې تر ختـنـه چین او هنده پریوی پراخي ځمکې خپور وو او له هغه وروسته د دغه ټبر پاچا چې تورامانا Turama نومېده په ۵۰۰ زکال کې یې د واک پر ګدۍ ډه ډه ولګوله. هغه خپل پام هند ته ور واړاوه او د سیالکوټ ښار یې د خپلې واکمنی پلازمېنه و ټاکه چې د هندي ګوپتاې دولت ملا یې ور و لړزوله . په هند کې له نوموړي هپتالي تورامانا څخه دوې ډبر لیکلي راپاتې دي چې یوه یې په سکهر او بله یې په اکوراسټ کې ده او دهغه نوم د 'مهاراجه توره منه ساه جاولي' (زاولي توره من شاه سترواک) په توګه لیکل شوی دی. له تورامانا وروسته مهیراکولا Mahirakula تر ۵۴۲ یا ۵۴۴ ز پورې د هپتالیانو د پاچاهی پر پلاز کښېناست اونوم یې د هند د ګوالیار په ډبر لیکه کې په ۵۱۷ ز کال کې لیکل شوی دی . د مهیرا کولا پاچاهي له خونړیو نښتو او جګړو سره ملګری وو چې پکې ماته یې وخوړه او د هغه له مړینې سره د هپتالي دولت بې وسي او د خسرو انوشیروان(له ۵۳۱ تر ۵۷۹ ز) په وخت کې له منځه ولاړ (۸)-

پوهاند حبیبي د 'زابـُل' د وییکي په اړه لیکي : ( که څه هم اوسنیو څېړونکو زاول یې د هفتالي د توکم یو ټـبَـر بللی چې ځمکواله نوم یې د دغې سیمې نوم د (زابلستان ) په ډول ددوی له نوم سره تړل شوی او دا باید د (۴۰۰ز) کال په شاوو خوا کې چې له سیمې څخه د هفتالیانو د وتلو کال دی سمونه وخوري خو زه یو توسن اودلیل لرم چې د 'زاول' وییکی له زیږدیزې پیړۍ څخه لا هم لرغونی دی . حبیبي وایي چې په پهلوي لیکدود کې د 'زاول د پاچایانو نوم' ، ' زوب ملکا' وو چې آرامي ملکاهوزوارش باید 'زاب شاه ' یا ' زابل خدای' وي. (۹) خو اروا ښاد حبیبي تر دې مخکې ندی تللی چې څرګنده شي آیا دغه لیکدود له پهلوي پارتي یا له زیږدیزې پیړۍ مخکې د اشکاني پارتي او یا د دریمې زیږدیزې پیړۍ له پهلوي ساساني سره تړاو لري؟ خو د ایران پوه اروابناد سعید نفیسي له یاددښت څخه څرګندیږي چې د پهلوی د لیکدود په یادولو د اروابناد حبیبي موخه له ساساني پهلوي څخه وه. نفیسي زیاتوي : د دغې سیمې په سِکو کې په

تُخاري ژبې او لېکدود کې چې له يوناني څخه يې را ايستلې د دغې سېمې د پاچايانو نومونه او سر نومونه ،"شاهوزابولا ' Shaho-Zabula لېکل شوي او په پهلوي ژبې او لېکدود کې 'زاب ملکا' راغلى او څرګنده ده چې د 'ملکا' وييکى هوزارش او له آرامي ژبې راغلى او په ايراني ژبو کې 'زاب شاه' ويل شوى دى .
بايد ووايم چې په دې تړاو هيڅ شک او شوپيان نسته چې په پهلوي کې د زابل کره نوم ' زاب' وو او 'زابل' د دغه وييکي تخاري لېکلې بڼه ده (١٠)-
له دې امله کله چې زابلستان وايو ،ايا کولاى شو زابلستان د 'زاب ملکا' ټاټوبې يا د پاچايانو ټاټوبى و انګيرو؟ خو منطقي به دا وي چې 'زابل' يا 'زاول' د تخاري هفتالي له تــَـبـرونو څخه يو ټبر وګڼو او په ترڅ کى يې زابلستان د دغه توکم ټاټوبى وبـَلو، د بېلګې په توګه د بلوڅانو ټاټوبي ته بلوڅستان وايو ، د تاجېکانو ته تاجکستان ، د ازبکانو ته ازبکستان ، د ترکمنانو ته ترکمنستان او د افغانانو ته افغانستان او نور.

د احمد شاه بابا د واکمنى په وخت کې د افغانستان په ولايتونو کې ديو شمير پياوړو واليانو نومونه : :
هرات -درويش عليخان هزاره ، نيشاپور- عباس قلي خان بيات، قلات- اشرف خان غلجى ، شکارپور - دوست محمد خان کاکړ، مشهد- شهرخ افشار، کشمير -خواجه عبدالله خواجه زاده، پټياله- امير سينګهه، بلوڅستان- نصير خان بلوڅ، پنجاب -زين خان مومند، سندهه- نورمحمد چې په شهنواز خان سندهي پېژندل کېده، ديرهء اسماعيل خان -موسى خان، ملتان-شجاع خان ابدالي ، په پلازمېنه کندهار کې د احمدشاه بابا د دارالانشأ رئيس ميرزا هادى خان قزلباش ، د اعلى ديوان مستوفى ميرزا علي رضاخان قزلباش او د مالېې و زير يو هندى وو چې يوسف علي خان نومېده او د التفات خان نوم ورکړ شوى وو.، د احمدشاه بابا د وخت په پيسو کې د تورې ، ستوري او د غنمو د وَږيو انځورونه کښل شوي وو. پيسي له ژړو "مِسو" او سپينو زرو چې (کندهاري روپۍ ) نومېدلې جوړې او احمدشاهي بلل کېدلې. د افغانستان پيسې د کابل ، کندهار ، هرات ،مشهد ، اټک ، پېښاور ، ډيره جات ، بکهر ، سندهه ، کشمير ، انواله ، روهل کنډ، لاهور ، ملتان او سرهند کې جوړېدلې. (ميرغلام محمدغبار) -

هرګوره د حبيبي پروينا د عربانو تر راتګ او د اسلام تر خپرېدلو پورې د هپتاليانو (يا ابداليانو) پاتې شونې په زابلستان کې وې او ډېر لېکې يې لا تر اوسه په اروزګان او د قندهار په شمال کې شته. د يوې ستړې کېندل شوې ډبرې پرمخ د هپتالي پاچا نوم د 'بګوس شاه زاول مهرزى' چې (بزرګ شاه زاول مهرزى) لوستل کيږي ډيره شوني ښکاري چې هماغه مهيراکولا وي (١١)-
د هندوکش په سويل کې د هفتاليانو د ځواک او واک په تړاو بوسورت وايي : افغانستان ته د اسلام له راتګه

لږ تر لږه یوه پیړۍ وروسته د سویلي هندوکش هپتالي واکمنانو د بیلګې په توګه تورامانا (څه نا څه له ۴۹۰ تر ۵۱۵ ز پورې) او مهیراکولا (څه نا څه له ۵۱۵ تر ۵۴۴ ز پورې) د هند په شمال کې لویه ستړواکي جوړه کړې وه. د وخت په تېرېدلو د هند شمال ته د لاس اچـَونو لړۍ سسته شوه او واک یې د لوېدنې کندې ته نېږدې شو خو د هندوکش په سویل او ختېز کې هپتالي واکمنو د سېمه ییزو چارواکو په توګه خپلې واکمنۍ ته دوام ورکړ او په یاد به مو وي چې دغو واکمنو چارواکو د زنبیل (یا رتبیل) درناو نوم درلود. د معاویه له خلافته نیولې تر هارون الرشېده او د صفاري د لومړنیو واکمنانو تر مهاله په دغې اوږد مهالې دورې کې د دغه درناو نوم را منځ ته کېدنه څرګندوي چې 'زنبیل 'یا ' رتبیل' په چورلټ ډول د پاچایانو د لړۍ یو درناو نوم وو نه د کوم ځانګړي سړي نوم (۱۲). د بوسورت له دغونغوتو داسې انګیرل کېږي چې زنبیل شاهان پر 'هفتالي ' یا 'یفتالي' توکمونو پورې تړلي پاچایان ول چې له اسلامي لښکرو سره یې له دوه سوه کالو څخه زیاته دوره کې د بُست � کابل د سیمو په لمنو کې نښتې او جګړې کړي او کله یې عرب مشرانو ته د سولې د حق تر نامه لاندې د باج په ورکړې د کابل د وګړو له سرونو د هغوی د اورګډۍ اوغوبل مخه نیولې او تر ۲۵۸ هجري پورې یې (کله چې یعقوب لیث د کابل پر نیونې بریالی او د اسلام دین یې خپور کړ) خپله خپلواکي ساتلې وه (۱۳)-.

پوهاند حبیبي د افغانستان په لنډ تاریخ (تأریخ مختصر افغانستان) کې د ابدالیانو په اړه په لنډیز یوه کوشنۍ خو بډایه څیړنه کړې او لیکي : په اسلامي دوره کې لومړی نامتو سړی د (ابدال = اودال) د ترین زوی د شرخبون لمسی د سربڼ کړوسې او د دراني ټبر نامتو نیکه دی چې په ۴۴۰ هجري یا ۱۰۴۸ زیږدیز کې یې د سلیمان د غره په لمنوکې د پښتـنو ټبرونه تر ځان را ټول کړي ول. د هغه له زوزات یا نسله ملک سلیمان چې د زیرک په نامتو نوم پیژندل کېده ، افغاني توکمونه د سلیمان له غره څخه د کندهار سیمې ته راوستل او هلته یې مېشت کړل او د خپل ژوند په وروستیو کې ملک بارک خپل زوی په یوې توکمیزې جرګې کې خپل ځای ناستی کړ او له بارکه وروسته ، د زیرک بل زوی پوپل د توکم مشري پر غاړه واخیستله او له ۶۵ کلنې مشرۍ او له ۸۹ کالو ژوند وروسته سترګې یې له نړۍ پټې کړې. وروسته د پوپل زوی ملک حبیب د پلار ځای ناستی شو او تر هغه وروسته ملک بامي (بامي زي پر هغه اړه لري) د کندهار د افغاني توکم مشر سو چې له سلطان سکندر لودي ( له ۸۵۵ تر ۹۰۰ قمري = ۱۴۵۱ تر ۱۴۸۸ ز پورې) سره یې د دوستۍ نیږدې اړیکې درلودلې. له ملک بامي وروسته د کاني زوی د بامي لمسی ملک بهلول او له هغه وروسته د ملک بهلول نامتو زوی ملک صالح د افغاني توکمونو مشران شول. صالح له شیرشاه سوري (له ۹۴۷ تر ۹۶۰ هجري ) (۱۵۳۹ تر ۱۵۵۴ ز) سره د دوستۍ اړیکې درلودلې. له ملک صالح وروسته د هغه ورور ملک سدو (دسدوزیو ستر نیکه) په کندهار کې په یوې توکمیزې جرګې کې د

افغاني توکمونو مشري پر غاړه واخیستله. ملک سدو د سید جماالدین افغاني او لکهارت د وینا پر بنسټ لومړي صفوي عباس په کندهار کې د ابدالي توکم د لوی مشر په توګه په رسمیت پیژندلی وو (۱۴) ملک سدو (په ۹۴۵ هجري /۱۵۳۸ ز کال کې زیږېدلی ) خپله پلازمېنه د کندهار ارغسان غوره کړه. کله چې ملک سدو ۷۵ کلنئ ته ورسېده په یوې توکمیزې جرګې کې د خپلو پینځو زامنو: (خضرخان مغدود یا (مودود) ، زعفران خان ، کامران خان ، بهادر خان) له منځه یې خپل مشر زوی خضر خان خپل ځای ناستی وټاکه. په ۱۰۳۶ هجري/ ۱۶۲۶ ز کال کې خضر خان له نړئ سترګې پټې کړې او د هغه پرځای ملک مغدود یا مودود کښیناسته. ملک مودود د خپل پلار ملک سدو د سیاست برخلاف چې له لومړي شاه عباس سره یې د دوستئ اړیکې درلودلې د هند د ستر واک شاه جهان پاچا په ملاتړ را پورته سو او له خپلو ټبرونو سره یې یوځای پر کال ۱۰۴۷ هجري = ۱۶۳۷ ز د کندهار په سوبې کې له شاه جهان سره مرسته وکړه او له دې امله دغه ورونه د شاه جهان له پلوه د کندهار د کرښو د ساتونکو په توګه وپیژندل شول.
ملک مغدود او ورو یې کامران (د کلېد کامراني = د بریا کونجي لیکوال) پر کال ۱۷۴۰ ز کې ډېلي ته ولاړ او شاه جهان ورته د تودو ولولو په ترڅ کې ښه راغلاست وویل (۱۵).
د هند او ایران دولتونه د کندهار د ښار او ولایت د نیولو لپاره تل د افغاني توکمونو همکارئ او همغږئ ته اړ ول او شک او شوپیان نشته چې خپلو موخو ته د رسېدلو په پار د افغاني توکمونو د را خپلولو لپاره د هغوی مشرانو ته د وړیا ځمکو (ډالئ شوې او شرطي ځمکې) په ورکړه او یا د درناو نومونو اونورو امتیازونو د ورکړې له لارې په درغلنې هغوی پر ځان را تاوول او بیا به یې لښکرې پرې را وڅرخولې.
په دې منځ کې د دغې غولوونکې تګلارې پربنسټ د واک تـَلـه د دواړسیالو غاړو په ګټه تاوېدله او سوبمن دولت به د خپلې خوښې او ملاتړ توکمیز مشر ته پالنه ورکوله او د هغه ملاتړ به یې کاوه او مخالف توکمونه به یې تر دې کچې و ټکول او یا به یې دومره و زبېښل چې له خپل پلرنې ټاټوبې څخه به شړونې ته اړ شول. او له دې لارې یې د خپل واک د ټېنګولو لپاره د افغاني توکمونو په منځ کې د دښمنې د ریښو غځولو ته لاره پرانیستله. په خواشینئ کله چې د افغاني توکمونو مشران د یوه پیاوړي ګاونډوي هېواد (هند یا ایران) تر پالنې لاندې راتلل پرته له دې چې پوه شي نو خپلې ریښې به یې په خپل لاس را وربېلې او مځکې لدې چې د میرڅې پېښې ور لنډې کړي د خپلو سیالو مشرانو او یا هم د خپل خیل او خټک او یا د ټبر چاڼـَولو ته به یې ملا را وتړله.
فرهنګ په دې تړاو لیکي : د ابدالي او غلزایي په ټولنیز جوړښت کې چې ځمکواله او توکمیزه بېلګه یې درلودله له پردې واکمنئ سره سره د دغو توکمونو غړو بیا هم خپلو خانانو او ملکانو ته غاړه ایښودله او د هغوی له لارې به یې له پردې دولت سره اړېکه ټېنګوله. د نیغ پرنیغې واکمنې لپاره د ایران د دولت هڅې

د توکمونو له جوړښت سره ټکر خوړ او ټولي منډې ترړې به نېمګړې پاتې شوې ، نو له دې امله صفوي شاه عباس و پتېيله چې ايراني چارواکي دې خپلې کړنې د توکمونو د مشرانو له لارې چې بيا يې لوی راهيټ (کلانتر)- وبلل ، تر سره کړي. د ابدالي د توکم لومړی لوی راهيټ چې نوم يې په تأريخ کې لېکل شوی د پوپلزي له توکمه ملک سدو دی. نومړي په ۱۶۲۲ ز کال کې د ډيلي د واکمنو له لاسه د کندهار د ښار په نيولوکې له ايراني واکمنو سره مرسته وکړه او د صفوي (لومړي شاه عباس) له پلوه د ابدالي توکم د مشر په توګه و پېژاندل شو. وروسته د ډيلي واکمن د صفوي واکمن عليمردان خان په مرسته چې د ايران له صفوي دولت څخه يې مخ اړولی وو د عليزيو او د ملک سدو د پوپلزيو سيالو ټبرونو په ملاتړيو ځل بيا پر کندهار منګولې ښخې کړې .په ۱۶۳۹ ز کال کې صفويان بيا پر ښار را وکټېدل او هغوی د صفويانو له ويرې هند ته په شا شول او د اورنګ زيب له پلوه په ملتان کې مېشت شول (۱۶)-.

د صفويانو او نادرشاه افشار د تأريخ نامتو لېکوال لکهارت د صفوي د لړۍ د پای په خپل کتاب کې لېکي چې : (غلزيو د لومړي ځل لپاره د لومړي شاه عباس د پاچاهۍ (د اولسمې پيړۍ نېمايي) پر مهال ارزښتمنتوب ترلاسه کړ او وروسته له هغې چې د ابداليانو د زور او تيريو له امله له کندهاره هرات ته د سېمې د بدلولو لپاره اړ شول نو د غلزيو دويم ټبر په کندهار او زمېنداوَر کې څه ناڅه ارزښت وموند ځکه چې غلزيو خپل دود ته له ټېنګې ګروهنې سره سره پرکندهار يې د هندي مغولانو د واکمنۍ پرځای ،صفوي واکمني او واکمن ته د لومړيتوب په سترګه کتل او لامل يې د لومړي شاه عباس ښه او خپلواک چال چلند وو)(۱۷)-.

د دغې لېکنې د شالېد پربنسټ ، د صفوي د دولت د بيلتون پالنې او د بَدې د ورکړې تګلارې او د غلزيو په ملاتړ د شاه عباس ډيرې ليوالتيا پرابداليانو د غلزيو د پخور يا فشار لامل وو او دغه چاره د دې لامل شوه چې ملک مودود او ټبر يې د شاه جهان په ملاتړ راپاڅېدل او د کندهار د نيولو لپاره يې د مغولي لښکر ملا ور وتړله او کله چې بيا هم صفوي دولت کندهار په خپله ولکه کې راووست نو يو ځل بيا ابداليان د خپلو سيالو افغاني ټبرونو تر پخور او د صفوي واکمنو د زورواکۍ تر ستڼک لاندې راغلل چې يو شمير يې هند ته په کډوال کېدلو يا فراه او هرات ته په تېښتې اړ شول. د لکهارت پر وينا لومړي شاه عباس دغه تګلاره کټ مټ په سُني کردانو کې پلې کړه او له هغوی سره يې وَرته چلند وکړ او يو شمير کُردي ټبرونه او توکميزې ډلې يې د خراسان قوچان ته په شړونې اړ کړلې.

د لکهارت پروينا دهغو ابداليانو شمير چې د اتلسمې پيړې په پيليزو شيبو کې په هرات او فراه کې يې استوګنه درلودله ۶۰ زرو کورنيو ته رسېدله. (۱۸) د دغسې يوې غټې بشري ډلې کډ والېدنه په خپله د صفوي رژيم ناتار او تيرغمالي ته نغوته کوي چې په کندهار کې د ناتارګرو واکمنو لکه ګورګين (۱۷۰۴

� ۱۷۰۹)، او پرابدالیانو له برمانتِه گرئ اووحشت څخه د ډک تیري له لارو تر سره شوې وه. او څرنگه چې د لکهارت وینا ته مو نغوته وکړه د لومړي شاه عباس په وخت کې یو شمیر ابدالیان د هرات څیرمو سیمو ته په گډوالي اړ شوي ول.

افغاني څیرونکي عبدالباري جهاني د مجمع التواریخ له وینا لیکي چې : د ۱۰۰۰ هجري قمري په شا او خوا کې ابدالیان د کابل له کوهستانه چې د هغوی پلرنی ټاټوبی وو د یوشمیر لاملونو له امله را ووتل او د هرات په څیرمو سېمو کې مېشت شول. هغوی په دوبیو کې په بادغیس او په ژمیو کې به په اوبـِه او شافلان کې د هرات په ختېز کې بوختېدل. ویل کیږي چې د شاه سلیمان او د هغه د زوی سلطان حسین صفوي (۱۶۹۴ � ۱۷۲۲ ز) د واکمنئ پر مهال د هرات په شا او خوا کې د هغوی شمیره ۶۰ کورنېو ته رسېدله. صفوي واکمنو هغوی ته په درناوي کتل او د دغه ټبر مشرانو ته به یې درناو نومونه ورکول.

صفوي پاچایانو وَرته چال چلند له غلزیو سره هم کاوه او د هغوی مشر به یې پاچا یا سلطان باله.

ښاغلی جهاني د مجمع التواریخ له وینا لیکي او زیاتوي چې د صفوي شاه سلیمان د پاچاهی په وروستیو کې د ابدالي توکم سروال حیات سلطان د هرات د واکمن له یوه مالیه ټولونکي سره شخړه وکړه او په پای کې مالیه ټولونکی و وژل سو. حیات سلطان او ورور یې لښکر خان د صفوي واکمن له ویرې د خپل د ټبر له پینځو یا شپږ زرو تنو سره ملتان ته و خوځېد) .۱۹.(

د مجمع التواریخ په دغه لیږد یا روایت کې دوه ټکي د غور اوڅېړنې وړ دی.

لومړی � په هېڅ افغاني لیکل شویو سرچینو کې داسې نغوته نه ده شوي چې گنې د تاریخ په اوږدو کې دې مخکې او یا وروسته له اسلامه د کابل کوهستان د ابدالیانو د پلرني یا څېرمه ییز ټاټوبې په توگه را په گوته کړي. یو شمېر افغاني تأریخ لیکونکي لکه : فیض محمد کاتب ، کهزاد ، حبیبي ، غبار ، فرهنگ ، پوهاند میرحسین شاه ، پوهاند محمد علي زُ هَما او پوهاند کاکړ یو یې هم په خپلو لیکنو کې دغسې یوه ټکي ته نغوته نده کړې. نو لدې څرگندیږي چې د مجمع التواریخ د لیکوال دغه انگېرنه او ادعا بې بنسټه او د منلو وړ نده. د پوهاند حبیبي وینا چې د تأریخي لاسوندو پر بنسټ ولاړه ده ، ۱۰۰۰ هجري قمري کال چې له ۱۵۹۳ زېږدېز سره سمون خوري د لومړي شاه عباس د واکمني کال دی او د لومړي شاه عباس د واکمني پرمهال ابدالیانو د کندهار په ارغسان کې د ملک سدو تر مشرئ لاندې ژوند کاوه. څرنگه چې پورته مو وویل ملک سدو د صفوي شاه عباس له پلوه د ابدالیانو د مشر او د راهېټ (کلانتر) په توگه او له ملک سدو وروسته زوی یې ملک خضر خان په همدغه نامه پېژاندل کېده.

دویم : د سلطان خدا داد زوی حیات سلطان د دویم شاه عباس ، شاه سلیمان او صفوي سلطان حسین شاه

هممهالی او د پوهاند حبیبي د لیکنې پر بنسټ د کندهار استوګن وو نه د هرات چې ګڼې د هرات واکمن دې ورپسې مالیه ټولوونکی ولېږي او په پای کې دې ووژل سي. وروسته به وګورو حیات سلطان د خپل د اکا د زوی دولت خان چې د دویم شاه عباس او صفوي سلطان حیسن د واکمنۍ پر مهال یو پیاوړی او مخور سړی وو، ترزبېښاک او بې پېرزوېنې لاندې راغې او له خپل ورور او اړوندو کسانو سره اړایستل کېږي چې له خپل ټاټوبې شهرصفا او کورڅخه ملتان ته کډه شي.

د حیات سلطان پلار ، سلطان خدا داد او ورور یې شیرخان چې د خضرخان زامن ول د خپل تره ملک مودود له وژل کېدلو وروسته ( په ۱۶۴۳ ز کې د هند له بابري واکمن سره په جګړه کې ) د ابدالي ټبر مشري په لاس کې ونېوله. سلطان خدا داد هغه سړی دی چې د توکمیزو جرګو د جوړولو او د دوستۍ د اړیکو د ټینګولو له لارې یې په کلات (زابل) کې له مېشتو غلجیو ټبرونو سره د ابدالي ټبر تاو تریخوالی ، زړه بدواله او اختلاف اوار کړل. په پای کې هغه له سلطان ملخي توخي ( د غلجیو د ټبر له مشر) سره په دغو جرګو کې دوه اړخیزه پوهاوي ته ورسېد او تړون یې وکړ چې د دواړو اړخونو د واکمنۍ لمن دې د کندهار د لوېدیځ په پینځوس مایلي واټن کې د جلدک سېمه او د ګرماب پل سنګی (ډبرین پُل) وي. له دغه تړون او پوهاوي وروسته دوی د خپلې واکمنۍ لمنه د ژوب او بوري او د سلیمان د غره تر لمنو و غځوله. په دغه وخت کې د سدوزیو ورونیو پلازمېنه په ټولېز ډول د کندهار ختېز ته د ۳۰ مایلو په واټن کې د شهر صفا په سېمه کې وه.
پوهاند حبیبي وایي چې : د ډیلي له درباره شیرخان ته چې سلطان خدا داد ورور او د خضرخان زوی وو د شهزادګي درناو نوم ورکړل شو حال دا چې د صفوي دربار هم هغوی د میرزا (شهزادګي) په درناو نوم پېژندل. یوځل شیرخان د کندهار له صفوي واکمن سره و نښته او نه یوازې صفوي ځواک یې د 'کوژک' په غاښې کې دړې وړې کړ بلکه هغه خپل د اکا زوی حسین خان (د مغدود زوی) هم په ګونډو کړ او اړ شو چې ملتان ته په شا شي او د هند د مغولي سترواک اورنګ زېب (عالمګېر) له پلوه هغوی ته په ملتان کې ځایونه او آړوتي (شرطیه) ځمکې ورکړل شوې. د احمدشاه بابا په وخت کې ابدالي شجاع خان او د تېمورشاه په وخت کې ابدالي شریف خان او رکن الدوله مظفرخان د ملتان سمبالوونکي یا ناظمان (واکمنان) ټاکل شوي ول چې ټول یې د همدغه سدوزي حسین خان له پښته ول (۲۰) .
له شیرخانه وروسته سرمست خان او له سرمست خانه وروسته زوی یې دولت خان د کندهار د کرښو د ساتونکو پر نامه وپېژندل شول. مخکې وویل شوی چې د پارس او هند دولتونو د افغاني توکمونو دواړه مشران د درناو نومونو ،درغلنې ، ډالیو او د دریز او رتبو د ژمنو، د ځمکو او آړوتو ځمکنیو شتمنیو له

لارې خېل ځان ته لیواله کول. د ببلګې په توګه صفوي دویم عباس د ۱۰۵۹ هجري / ۱۶۴۹ ز کال په لومړیو کې د یوه لیک په ترڅ کې دولت خان ته لیکلي ول چې دې یې د کندهار د کوتوالۍ ایالت پناه کوتوال بللی او د حکومت له پلوه یې ورته په ولکې لاندې هېوادونو کې د یوه لوی ولایت د ورکړې ژمنه کړې وه چې ساری به یې په ایران او هندوستان کې نه وي. (۲۱) د ډیلي دربار هم د افغاني خانانو په تړاو وَرته چال چلند درلود د بېلګې په ډول سلطان محمد دراني (د تأریخ سلطاني څښتن) د هند د ستر واک اورنګزیب د شاه جهان زوی آرلیک یا منشور د سلطان ملخي توخي په کور کې لوستلی وو. (۲۲) او دا هماغه کورنۍ ده چې د واکمنۍ او مخورتوب لمنه یې د زابل له کلاته تر غزني غځېدلې وه.
همدا چې سدوزي دولت خېل ځان تر ډېرې کچې پیاوړی ولید نو د خپلې واکمنۍ او مخورتوب لمنه یې (د سلطان ملخي د کورنۍ د واکمنۍ لمنې ته په لاس اَ چـَولو) تر غزني او د سلیمان تر غرونو خپره کړه. که څه هم اروا ښاد پوهاند حبیبي د غلزیو د ځمکو پر سر د سدوزي دولت خان او د سلطان ملخي د ځای ناستو تر منځ د نښتو په تړاو څه نه وایي، خو د غزني تر کرښو او د سلیمان تر غرونو پورې د دولت خان د واکمنۍ د پراخولو په اړه خبرې کوي او دغه کار د ځمکوالي � توکمیزې ټولنې په منځ کې له یوې خوا او د ګاونډیو هېوادونو د سیالیو د لوخړو او اورونو په منځ کې له بلې خوا له خونړیو جګړو پرته چورلټ ناشونی کار دی. شک او شوپیان نشته چې دولت خان د تورو او شلګرو یا نېزوپه مټ و کولای شول خپله واکمني د سلطان ملخي په ځمکنۍ واکمنۍ کې پراخه کړي، دې ته کټ مټ د لومړي شاه عباس د واکمنۍ په وروستیو وختونو کې غلزیو د ابدالیو پر سېمې یرغل وکړ او هغوی یې هرات ته په کډوال کېدلو اړ کړل.

دولت خان چې له دغوسوبو او برياوو وروسته د واکمنۍ په خوبونو کې مسېدلې او نشه وو ، له یوې خوا یې د کندهار د صفوي واکمن پر وړاندې د سرغړاوي او بلوا پاڅون را پورته کړ او د کورواکۍ او خپلواکۍ نغارې یې ودربولې او له بلې خوا یې خپل تربرونه (حیات سلطان او ورور یې لښکر خان او د سلطان خدا داد زامن) دومره وزبېښل چې هغوی ټول یې اړ ایستل چې له خپلو ټولو پلرنیو شتمنیو او ځمکو څخه لاس پر سر شي او په دې ترڅ کې څه نا څه شپږ زره ابدالي کورنۍ ملتان ته کډوالې شوې. حبیبي وایي چې ، سدوزي دولت خان د پنځوسو کالو په اوږدو کې له کندهاره تر غزني پورې واکمني وکړه او د صفوي دولت د بیګلر بیګي (والي) او محمد زمانخان د واکمنۍ لاس یې یوازې د کندهار د کوتوالۍ په د یوالونو کې ور لنډ کړی وو. (۲۳)-
فرهنګ هم د سدوزي دولت له ځواکمنوالي څخه خبره کوي او په کندهار کې د یې د ترېنګلي اکر او حالت

لامل د دولت خان پاڅون ګڼلی او وايي : د سدو خان له پښته د سدوزيو د ټبر راهيټ يا کلانتر دولت خان د خپل توکميز مخورتوب په ملاتړ په کندهار کې له صفوي والي څخه سرغړاونه وکړه او په دغې سيمې اکر او حالت کړکېچن کړ. د اصفهان دربار پرېکړه وکړه چې د دولت د ټکوني لپاره په کندهار کې ټک سرى او زمبک (سختګير او با انظباط) والي و ټاکي او د دغه د تر سره کولو لپاره يې د ګئورګی و ختنک په نامه تن نوى ګُرجي مسلمان شوى چې په تاوتريخوالي ،پرغزناکئ او قهر او بد چال چلند کې نوم درلود و ټاکه . ګئورګی چې افغانانو د ګرګين پر نامه پيژانده د شاهنواز خان او بيګلر بيګي يا حاکم اعلى د درناو نوم په لرلو سره په ۱۷۰۴ کال کې د ګرجيانو او قزلباشانو له ډلو څخه جوړ يوه ځواک سره کندهار ته راغى او هڅه يې وکړه چې د خانانو او سپمه ييزو واکمنو مختورتوب ته د پاى ټکی کښيږدي او په کندهار کې د مرکزتر نيغ څار لاندې يوه اداره رامنځ ته کړي. خو دغه سړى له خپلو ټولو ځانګړتياوو سره سره يو درغلن سړى هم وو او په لومړي سر کې يې د دولت خان له سيالو ابدالي مشرانو د مېني تارونه و غځول او د غلزيو له مشرانو څخه يې نامتو هوتک اميرخان چې د ميرويس په نامه پيژندل کيږي د پاموړ و ګرځاوه (۲۴).

ګرګين چې درغلن او دوه مخی سړى وو کله چې کندهار ته را ورسېد ، نو د کندهار د ټبرونو په ځانګړې توګه د غلېزيو په منځ کې يې مخوراو نامتو ميرويس خان چې د خپل ښه چال چلند له امله وګړو ورته په ټېنګ درناوى درلود د پاموړ وګرځاوه او خپله پاملرنه يې د دولت خان او د هغه د ټبر پر پرزبېښلو او ځورلو نېغه کړه. هغه د ابدالي د ټبر يو شمير سيال کسان وموندل او له هغوي څخه يې د دولت خان په نېولو کې د مرستې غوښتنه وکړه. په خواشېنئ چې دغو لنډ باورو سيالانو (غزتخان او اتل خان سدوزي) د يوې تورې شپې په نېمايي تور تم کې ګرګين او د هغه وينې څښونکی لښکر شهر صفا (د کندهارد ختيزپه ۳۰ مايلي واټن کې) د دولت خان تر کلا راوست. د ګرګين ځواکونه تر کلا را تاو شول ، د کلا ور يې ور مات کړ او کلا ته ور ننوتل. ګرګين د سترګو په رپ کې دولت خان وواژه او وروسته د هغه زوى نظر محمد خان د ګرجي لښکر په غيشواو شلګرو مړکړ. او د دولت دوه نور زامن ، رستم خان او محمد زمان خان د شپې له تيارې څخه په ګټې اخيستنې په تېښته بريالي شول او ځانونه يې ارغسان د خپل د ټبر زړه ته ورسول. د دغې پېښې له خبرېدا سره سم د ارغسان ابداليو وسلې را پورته کړې او له ګرګين او د هغه له لښکرڅخه يې د غچ اخېستلو ژمنه وکړه. ګرګين له دغه اکر او حالت څخه په ويره کې ولوېده او سولې ته يې غاړه کښېښودله او د دولت خان زوى رستم خان يې د ټبر د مشر په توګه په رسمېت وپيژانده او د ابدالي ټبرد راتلونکو شونو پيښېدونکو غښکو او خطرونو د مخنيوئ لپاره يې له رستم خانه ، محمد زمان خان (د ستر احمد شاه بابا پلار) د يرغمل په توګه وغوښت او په بېړه يې د ساتونکو تر غيشو لاندې کرمان

ته ولېږه چې هلته د یرغمل په توګه تر څار لاندې واوسي. ګرګین څلور کله وروسته یې رستم خان هم په چل او درغلنې زېندی کړ . او بیا یې د شلګرې یا نېزې په زور د ارغسان له سېمې څخه یې ټول ابدالیان د ګرشک او فراه ترمنځ ( په بې اوبو او بې وښو دښتو کې ) شړونې ته اړ کړل . ابدالیانو بله لاره نه درلودله مګر دا چې د شورابک او د فراه په دښتو کې په شپنتوب او پوَندګلوي بوخت شي او یوه برخه یې هم د هرات د ولایت او د اسفزار په څېرمو سیمو کې خوره وره شوه. په بل اړخ کې ګرګین له غلجیو سره ښه چال چلند وکړ او د غلزیو د دوستۍ د راخپلولو لپاره یې د ابدالیو یېره ورې (حاصلخیزه ) ځمکې د غلزیو د ټبر مشرانو ته ورکړې (۱۷۰۷ ز) (۲۵) او له دې لارې یې د افغاني توکمونو ترمنځ د دښمنۍ او بیلتون پالنې زړي وکرل او هر څومره یې چې کولای سوای د ابدالیو او غلزیو ترمنځ سیالۍ کې اورلړونی وواهه او غوړي یې پرې ور توی کړل.
په دغو وختونو کې د هغو ابدالیانو شمېره چې د صفوي دولت د زبر ځواکې واکمنۍ له امله له خپل پلرني ټاټوبي (ارغسان او شهر صفا ) څخه بې برخې شوي ول او د هرات او سبزوار (شېنډنډ) په سېمې کې کډوال ول تر ۶۰ زرو کورنیو ته رسېدله.
د شاه سلیمان او سلطان شاه حسین په وختونو کې په هرات کې د ۶۰ زرو ابدالي کورنېو له شتون څخه ښاغلی باري جهاني په هَک پَک والي زیاتوي چې : د یوه توکم په غټ شمېر کډه کېدنه یا د اوږده مهال په اوږدو کې تر سره شوې او یا داچې کومه ستره ویرلړلي او خونړۍ پېښه رامنځ ته شوې چې دومره پښتانه دې له خپل پلرني ټاټوبي او کور څخه دغه ځای ته را کډه شوي وي (۲۶)۔
د دغې لېکنې پر ګروهنې د اتلسمې پیړۍ په پیل کې په هرات کې د ۶۰ زرو ابدالي کورنېو شته والی یوه لویه شمېره ده او هر پوه او ځیر سړی هک پک کولو او ګومان کولو ته اړ باسي چې د دغسې یوې ډله ییزې کډه کېدنې په تړاو په سوچونو او انګیرنو کې ډوب شي. له همدې امله ماته د انګریز ي څېړونکي او د نظر خاوند پوه بوسورت خبرې په یاد راځي چې د هرات او تخارستان په کرښو کې د قتیبه پر نامه د یوه عربي اورګډې وینې بهوونکي سروال د تورو وهلو په تړاو یې کړې او هپتالیانو د وروستني ستر لارښود نیزک له ښاد نامو څخه په یادونې وایي : د هغه مقاومت هغه وخت پای ته ورسېده کله چې په ۸۷ قمري (۷۰۵ ز) کې قیبه مسلم پر قرآن د سوګند او د پناه ورنې او خوندیتوب د ژمنې په کولو په درغلنې نېزک ونیو او ویې واژه. د نیزک جنګیالي چې د هغه له اړوندو ټبرونو څخه ول د خپل لارښود مشر له یوپناکېدنې وروسته پرته له شک او شوپیانه د هرات په شمال یعنی په بادغیس او د بالامرغاب او د هرات په نورو شنو رغیانو کې په خپل کلیوالي او پوندګلوي ژوند بوخت شول او شمیر یې په اتلسمې پیړۍ کې چې له نورو ابدالیانو سره د هرات څېرمه سېمو ته په شړونې اړایستل شوي ول تر ۶۰ زرو کورنېو پورې

رسېده.

کله چې هغوی ولېدل او و يې اورېدل چې کندهارمیشتو غلزيو تېرونو و کولای شول د صفوي واکمنۍ منګولې له خپله سره لېرې کړي او خپله کوراکي تر لاسه کړي نو په ملتان کې د سلطان حيات خان زوی عبدالله خان ته يې خبر ور کړ او له هغه يې وغوښتل چې هرات ته ورشي او د هغوی مشري په غاړه واخلي چې د صفوي د تنګ لېدې ، متعصبې او ناتارګرې واکمنی منګولې دې د خپلواکۍ د څپو په پاڅون کې د هغوی له غاړې ورلنډ کړي او همداسې يې وکړل. په راتلونکي برخه کې به د صفوي واکمنۍ پرووړاندې د ابداليانو له پاڅون او يون څخه خبري وکړو